دیپلوم انجنیر سلطانجان کلیوال
۲۰۱٦/۰۱/۱۹

# د افغانستان د ستونزی د حل د پاره یوه ځانګړی لار:

دوهمه برخه او پای

## دویم څپرکی

### د ګاونډیو هیوادونو مسؤلیتونه:

د افغانستان ګاونډی هیوادونه عبارت له پاکستان، ایران، ترکمنستان، از بکستان، تاجکستان او چین څخه دی. دا هیوادونه هر یو په خپل ځای کی کولاشی چی په افغانستان او منطقه کی د سولی او ثبات سره، دمخدره موادو د کنترول او د نیکو اړیکو په لرلو سره په اقتصادی برخو کی ستر رول ولوبوی اوپه شریکه له خپلو هیوادونو څخه د تروریستی شبکو په شړلو او هغوی ته په ماتی ورکولو بری و مومی.

افغانستان ته د سولی او ثبات په راتلو کی د نورو ګاونډیو په اندول پاکستان او ایران (خصوصاً پاکستان) درنه اوستره برخه لری او دا ډیری وجهی لری چی د دی وجوهاتو څیرنی ته په دی لیکنه کی اړ تیا نه لیدله کیږی خو د دی خبری یادونه ضروری ده چی یوه ستره وجهه یی ممکن داوی چی د شوروی د تجاوز نه وروسته په میلیونونو افغانان دی دوه هیوادونو ته مهاجر شول او ستره برخه یی لاهم په همدی دوه هیوادونو کی ژوند کوی او زرګونو تنه هره ورځ د پولو نه اوړی راوړی او تر ټولو مهمه دا چی د یاغیانو ډلی هم په مجموع کی د همدی دری هیوادو یعنی افغانستان، پاکستان او ایران په پولو کی میشته او له همدی ځایه د نړیوالو تروریستی ډلوسره اړیکی نیسی. که د تروریستی فعالیت له مخی دا دری هیوادونه و څیرل شی د دوی د هریوه ناتوانی نارامی او بی ثباتی د بل د نارامی، ناتوانی او بی ثباتی سبب کیدای شی، خصوصاً افغانستان او پاکستان خو د ژوند په ټولو چارو کی داسی یو د بل سره تړلی دی لکه نوک او وریځ . په دی خبره پو هیدنه ډیره ضروری ده چی که افغانستان کی نا امنی وی، بی ثباتی وی، مرګونه او ژوبلی وی، بی قانونی وی، دهشت او وحشت وی نو پاکستان به ورسره په دی رنځونو او کړاوونو ککړ وی او د یوی ورځی نه بلی ته به د تباهی او بربادی په لوری روان وی. په همدی توګه که په پاکستان کی هر ډول لوی او وړوکی کړ کیچ وجود ولری افغانستان به ورسره سم په کړاو اخته وی. نو له دی کبله دواړو هیوادونو ته په کارده چی د وخت غوښتنی و پیژنی او د خپلی بقا د پاره د ځانګړو پریکړو، لوظنامو او ژمنو په کولو سره یو د بل په



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

وړاندی د خلوص نیت نه کار واخلی او دواړه دولتونه د خپلو خلکو او ولسونو په وړاندی خپلی ملی او انسانی دندی ترسره کړی.

د همدی درک له مخی دواړه دولتونه باید لاندی وظیفی تر سره کړی:

۱: دواړه دولتونه دی د خپل کنترول په ساحوکی د دهشتګرو ډلو او ګروپونو د ټکولو او ځپلو په برخه کی د یوه پلان له مخی مساعی مشترکه ترسره او ددی ډلو هغه غړی چی د ځینو مجبوریتونو له مخی د تروریسانو غیړی ته لویدلی یا افغانان او یا هم پاکستانیان دی، نړیوالو تروریستی ډلو نه را بیل کړی، هغوی ته دی په خپلو هیوادونو کی د شرافت مند ژوند د جوړولو هلی ځلی وکړی او نور دی مجبورکړی چی د دوی خاوره پریدی.

۲: د پاکستان استخباراتی اداری (آی، اس ، آی) ته په یقین سره د ټولو افغان یاغی ډلو د مشرتابه ادرسونه ، دتمویل منابع او لوژیستیکی لاری او رroونه ډیر ښه ور معلوم دی، که د پاکستان دولت او د دی دولت دا ځارګره اداره و غواړی چی افغان یاغی ګروپونه سولی ته را وبولی نو په شپږو میاشتو کی دننه دننه به ټول افغانان یوه بیرغ لاندی را ټول شی او بی له شکه به په ټول هیواد کی سوله برقراره او سیاسی ثبات به را منځته شی.

۳: افغان دولت دی هم خالصانه هلی ځلی وکړی چی د خپل هغه نفوذ او اعتبار څخه ګټه واخلی چی په قبایلی سیموکی یی لری تر څو د پاکستان د دولت وسله وال مخالیفین دی ته و هڅوی چی د پاکستان د دولت سره خپل اختلافات د خبرو له لاری حل وفصل کړی او د خپل هیواد په هیڅ ځای کی ورته د پاتی کیدو او اوسیدو اجازه ور نه کړی. همدارنګه افغان دولت دی زیار و کاری ترڅو د پاکستان د دولت هغه تشویش چی دبل هیواد له لوری به د افغانستان خاوره د دوی په ضد کاروله کیږی په بیخی رفع کړی.

۴: دواړ هیوادونه دی په ورته وخت کی خپلو سیاسی او اقتصادی اړیکو ته پراختیا ورکړی او د ګاونډیتوب نړیوال نورمونه دی په کلکه مراعات کړی.

۵: د دواړو هیوادو تر منځ کړی ژمنی دی د نړیوالو کتونکو له لوری په کلکه او دوامداره توګه و څارلی شی او د خلاف په صورت کی دی د ژمنو په ماتونکی د ملامتیا غږ وشی.

۶: ملګری ملتونه او متحده ایالات دی د دواړو هیوادونو د اړیکو په پراختیا کی، د افغانستان سره د لاس لیک شوی امنیتی تړون د موادو سره سم خپلی ژمنی سرته ورسوی.

۷: افغان دولت دی زیار و کاری چی د ایران اسلامی دولت تر ټولو د مخه دی ته و هڅوی چی په ایران کی د پرتو مهاجرو سره د مهاجرینو د نړیوالو قوانینو سره سم انسانی چلند وکړی اوپه فوری توګه د هغوی له آزار او زجر څخه لاس واخلی.

۸: افغان دولت دی په هره وسیله چی وی، ایران په دی باندی ډاډمن کړی چی د افغانستان له خاوری به هیڅکله د دوی هیواد ته هیڅ ډول خطر را منځ ته نشی. نه به خپله افغانان د دی هیواد په داخلی چارو کی لاس وهنه وکړی اونه به بل هیواد ته د دی اجازه ورکړی چی له دی خاوری څخه ایران ته ګواښ وکړی

۹: ایران باید په دی قانع کړای شی چی تروریستی قوتونه لکه څومره چی نوری دنیا ته زیان رسولی شی په هماغه اندازه د ایران د پاره هم خطرناک ثابتیدلی شی، نو د دی ډلو سره مرسته د مار او لړم سره اشنا یی ده.

۱۰: دا څرګنده خبره دی چی افغانی یاغیان او نور هغه نړیوالو دهشتګر چی د دی دری هیوادونو په پولو کی وسله وال او تخریبی فعالیت لری، د خپلو نړیوالو حامیانو څخه مرستی تر لاسه کوی او دا هم څرګنده ده چی د دی مرستو

ډیره لویه برخه حتی په کلی توګه د ایران او پاکستان د سمندری بندرونو له لاری، د دی دوه هیوادونو وچی ساحی ته او بیا د همدی دولتونو د معلوم الحاله کړیو په مرسته د دی خرابکارو لاس ته ورځی او په ټوله سیمه خصوصآ زمونږ په هیواد کی د تباهی او بربادی سبب ګرځی. نو ځکه افغانستان حق لری چی د همسایه ګئ او حسن همجوارئ د اصولو له مخی د دی دواړو هیوادو یعنی ایران او پاکستان څخه د دی توقع ولری چی د دی تخریبی ډلو دغه تنفسی مجرا بنده کړی او په دی توګه خپله انسانی او اسلامی وظیفه سر ته ورسوی.

۱۱: افغانان په مجموع کی په دی نظر دی چی که تر ټولو دمخه د امریکا متحده ایالات او بیا پاکستان او ورپسی ایران و غواړی چی په نړئ، منطقه او افغانستان کی سوله او ټیکاو رامنځ ته شی، نو د دی هدف په لاس راوړل به تر شپږو میاشتو زیات وخت ونه نیسی.

۱۲: که چیری دا دری هیوادونه (افغانستان، پاکستان او ایران) ژمنی وکړی او دا کړی ژمنی په سمه توګه تر سره کړی نو د تروریستانو او د دهشتګرو د پاره به په یقین سره چی د ژوند کولو ساحه را تنګه او مجبور به شی چی یا داسیمه پریدی او د خپل فعالیت د پاره بلی لوری ته په تیښته شی او یا مات او نابود شی.

۱۳ : زمونږ د ګاونډیو هیوادونو دولتونه او چارواکی باید په دی و پوهول شی چی جګړه او نارامی لکه څومره چی مونږ ته زیان رسولای شی د هغی دوه چنده او دری چنده دوی ته ځکه رسولای شی چی دوی زمونږ په نسبت آباد او شتمن دی، د خاوری ساحه یی تر مونږ ډیره ده او نفوس یی له مونږ نه دوه دری ځله زیات دي او د جنګ او نا امنئ لوی خصلت دادی چی آبادی له منځه وړی او په ګڼه ګونه ګی ډیره مرګ ژوبله را منځ ته کوی.

۱۴ : که دا دری دولتونه یو په بل اعتماد نه شی کولای بی له کومی بهانی څخه کولای شی چی یو بل ته نړیوال ضماتونه ورکړی ترڅو هر یو خپل وظایف په سمه توګه تر سره کړی.

## دریم څپرکی

## د نړیوالی ټولنی مسؤلیتونه او و ظیفی

لکه څنګه چی مخکی اشاره وشوه د افغانستان د خلکو دا اوږده غمیزه اوس یواځی د افغان ولس ستونزه نه ده بلکی د یوی نړیوالی ستونزی او تراژیدی بڼه یی خپله کړیده ، ځکه څوارلس کاله وشو چی د افغانستان جګړی تقریباً ټولی نړئ ته ستر ځاني او مالي تاوانونه ور واړول اولایی هم وراړوی.

د ناتو د غړو هیوادونو په سلګونو بچیان د دی وطن په غرونو او رغونو کی بی له دی چی و پوهیری ولی؟ د څه د پاره ؟ او د چا د پاره؟ وژل کیږی، و وژل شول او لا هم وژل کیږی. د دی تر څنګ نړیوالی ټولنی په افغانستان کی په ملیاردونو حتی په ټریلیون د خپلو هیوادونو د ټکس (مالیی) ورکونکو پیسی بی له دی چی یا دوی ته او یا افغان ولس ته کومه داسی ګټه ورسوی چی د یاد ونی وړوی په مصرف ورسولی او لا یی هم په مصرف رسوی، خو له بده مرغه نه یواځی داچی د عامو افغانانو په ژوند کی هیڅ بدلون را نه وست، سوله یی را نه وسته، ثبات یی را منځ ته نکړ ، لنډه داچی هیڅ ډول داسی یو څه ترسره نه شول چی د نړئ او د افغانستان عوامو ته ګټه ورسوی، بلکی بر خلاف نوی ستونزی یی و زیږولی، د نړئ په هیوادونو کی یی نوی بد بینئ پیداکړی او په افغاني ټولنه کی یی په طبقاتی، قومی، ژبنی، سمتی، مذهبی او همداسی په لسګونو نورو بنو داسی کرغیرنی ناروغئ را منځ ته کړی چی ممکن تر ډیرو کلونو پوری به د دوی مل وی.

زما د معلوماتو له مخی زیات شمیر افغانان په دی باوردی چی دا ټول بی ګټی تلفات او مصارف په عمومی توګه په قصدی او عمدی بڼه نه دی را منځ ته شوی بلکی دا د هغو غلطو او ناسمو معلوماتو را ټولونی په اساس منځ ته راغلی چی نړیوالی ټولنی (خصوصاً د امریکا متحده ایالاتو)، د افغانانو د ژوندانه د طرز او د هغوی د سیکالوجئ په هکله له غرض لرونکو مراجعو څخه تر لاسه کړی او لایی هم تر لاسه کوی.

متل دی چی وایی: «ماهی هر وخت چی له اوبو ونیسی تازه دی». که نړیواله ټولنه په رښتیا سره غواړی چی په افغانستان کی سوله او ثبات را شی، نړی د تروریزم له خطر څخه تر ډیره حده په امن کی وی او د مخدره موادو د تولید تر نیمایی لویه سرچینه له منځه ولاړه شی او بالاخره خپلو اطباعو ته په افغانستان کی د مداخلی او د ځانی او مالی تلفاتو په اړه قناعت بخښونکی ځواب پیداکړی نو لازمه ده چی د دی ستر ماموریت د بری او په باطل باندی د حق د غلبی دپاره په لاندی توګه عمل وکړی:

۱: نړیواله ټولنه دی په هیڅ وجهه د افغانستان د خلکو د ژوندانه په هکله د خاصو افغانی ځیرو او یا د نورو دولتو د غرض لرونکو موسساتو او سازمانونو څخه معلومات نه ترلاسه کوی، بلکی د مثبت عمل د سرته رسولو د پاره دی د مسؤلو افغانی دولتی ارګانونو څخه معلومات تر د لاسه کړی.

۲: نړیواله ټولنه دی هڅه وکړی چی د افغانستان د اساسی قانون او ځنی نورو معتبرو اسنادو له مندرجاتو بهر په افغان دولت د څه د منلو نه ډه ډه وکړی. د ساری په توګه:

د بن په موافقتنامه کی په واضح توګه داسی لولو: «منلی موده چی د افغانستان خلک حق لری چی خپل راتلونکی سیاسی سرنوشت په خپله خوښه د اسلامی اساساتو، دیموکراسی، پلورالیزم

(څو حزبی) او اجتماعی عدالت په رڼا کی و ټاکی».

د افغانستان د اساسی قانون لومړی ماده داسی حکم کوی: «افغانستان یو، آزاد، متحد او نه تجزیه کیدونکی اسلامی جمهوریت دی»

د همدی اساسی قانون دریمه ماده داسی صراحت لری: «په افغانستان کی هیڅ داسی یو قانون نشی جوړیدلی چی د اسلام د مقدس دین له اصولو او قوانینو سره په اختلاف کی وی».

د افغانستان سره د مرستو او کومکونو د اساساتو په لومړی ماده کی داسی راغلی دی:

«... د افغانستان ګڼ اړخیزه کلچر او تاریخی ارزښتونو ته د اسلامی اساساتو په بنیاد درناوي.»

دا ټول هغه څه دی چی نړیوالو پخپله را منځ ته کړیدی خو له بده مرغه په دا تیرو ۱۴ـ ۱۵ کلونو کی یی نه یواځی دا یو هم نه دی عملی کړی بلکی د دی ټولو خلاف یی عمل کړیدی او لا لګیا دی کوی یی. مثالونه ډیردی او نړیوال ځواکونه وربلندی پوره پوهیږی، خو که یی غوښتی وی ورته واضح کیدای شی.

۳: نړیوال دی و پوهیږی چی د نړی د لیډرانو لیده کاته د افغانستان د مرکزی مشرتابه په ځای د محلی واکمنانو سره مرکزی دولت کمزوری کوی او محلی زورمندانو ته د دی جرئت ورکوی چی د سولی او ثبات د هر ملی او نړیوال پرپوزل په وړاندی خنډونه پیداکړی او یا لا اقل هغه د خپلو ګټو لوری ته را وګرځوی.

۴: نړیواله ټولنه دی د افغانانو سره خپلی مرستی داسی عیاری کاندی چی هغه د دی هیواد اصلی مستحقینو ته چی اکثریت یی په لیری سیمو او باندو کی پراته او د هر ډول امکاناتو نه محروم دی ورسیږی، دا کار به څوګټی ولری، اول داچی دی ستری بشری قوی ته به کار پیدا شی، په خپل دولت به باور پیدا کړی او تر ټولو مهمه داچی د مجبوریت

په اساس د دهشتګرو لمن ته ور لویدلی به بیرته خپلو کورنیو ته را وګرځی او حتی د خپل ژوندانه د ښه کیدو په خاطر به د هغوی په وړاندی په مبارزه کی ورګډ شی او دا کار به د سولی او ثبات د راتلو سره پوره مرسته وکولای شی.

۵: نړیواله ټولنه دی د افغان دولت څخه په هره برخه کی د مرسته شوو پیسو کامل صورت حساب و غواړی، چی په دی کار سره به له یوی خوا په افغان دولت کی د فساد او ناسالم مدیریت مخنیوی وشی او له بلی خوا به د افغان ولس اړتیاو ته په سمه توکه رسیدګی شویوی.

۶: نړیواله ټولنه دی د افغان امنیتی قواو په روزنه ، تجهیز او تکمیل کی هسی عملی پلانی ګامونه پورته کړی چی په لنډ ممکن وخت کی د دی وړ تیا تر لاسه کړی چی ټول امنییتی مسؤلیتونه په هماغه ډول سرته ورسوی لکه څنکه چی ورته اړتیا ده.

۷: نړیواله ټولنه دی د افغان دولت د افغانی وسله والو مخالیفینو سره د افغان دولت له اشتراک پرته هیڅ ډول خبری اتری نه کوی، څکه دا کار له یوا خوا د افغانستان د دولت خپلواکی د سوال لاندی راولی اوله بلی خوا د هشت ګرو ته نړیوال حیثیت ور په برخه کوی.

۸: د افغانستان د سیاسی چارو تقریباً ټول کار پوهان حتی عام افغانان په دی با وردی چی د تروریستانو او دهشت ګرو ټولی لوی او وړی سرچینی د افغانستان نه بیرون خصوصاً په همسایه هیواد پاکستان کی قرار لری، لهذا دا د نړیوالی ټولنی وظیفه او مسؤولیت دی چی دا او د دی دهشتکرو نوری تغذیه وی سرچینی و پیژنی او هغه دولتونه د سخت فشار لاندی ونیسی چی دا سرچینی پکی شتون لری، څکه ترڅو چی جرړی او ریښی تاندی وی او تغذیه مومی بوټئ نه وچیږی، که نن یی څانکی پری شی سبا بیا نوری څانکی کوی او دا نوی څانګی به تر پخوانیو زړو څانګو نه لا زیاتی قوی او محکمی وی.

۹: نړیواله ټولنه باید په لوی مقیاس د نړیوال تروریزم سره خپلی مبارزی ته دوام ورکړی، څکه چی ترڅو د نړیوال تروریزم ټولی سرچینی شنډی نه شی یوائی په افغانستان کی د امن او ثبات په راتلو سره د نړی امن له خطره نشی بچ کیدلی، د دی امکان شته چی تروریستی شبکی د خپلو تخریبی اعمالو د سرته رسولو د پاره د افغانستان په ځای د نړئ ګومه بله برخه و ټاکی او بیا له سره د نړئ امن د تهدید او ګواښ سره مخامخ کاندی.

۱۰: په خلص ډول ویلای شو چی په افغانستان کی د سولی او امن راتلل د نړیوال امن د پاره بنیادی ارزښت لری، نو نړیوالی ټولنی ته په کار ده چی په دی مهم باندی په مکمله توګه ځان و پوهوی.

۱۱: نړیواله ټولنه د دی ستر کار د سرته رسولو د پاره لومړی باید په خپل منځ کی او بیا د افغان دولت سره پوره همغږی رامنځته کړی او په دی توګه د خپلو کړو وړو مؤثریت لوړ بوزی.

۱۲: نړیواله ټولنه په دی ښه پوهیږی، لکه څومره چی د نړئ د پاره د امن اوثبات راتلو ته اړتیا ده په هماغه اندازه د مخدره موادو کنترول او له منځه تللو ته هم اړتیا لری. نړیوال راپورونه په ډاګه کوی چی د دی موادو د تولید له نیمایی زیاته برخه په افغانستان کی تولیدیږی نو د مخنیوی د پاره یی باید د افغان دولت سره د هغه پلان په تطبیق کی چی د همدی پرپوزل په لومړی څپرکی کی د دولت د وظیفو تر عنوان لاندی راغلی دی هراړخیزی مرستی سرته ورسوی.

۱۳: د دی ټولو ترڅنگ دی ته ستره اړتیا لیدله کیږی چی نړیواله ټولنه د افغانستان د خلکو د زړونو د را خپلولو د پاره د ټولوهغو افغانی کودونو درناوی وکړی چی د زرگونو کلونو په اوږدو کی یی د ا خلک سره گډ او یو ځای ساتلی دی، که دوی ضرورت لری چی دا افغانی کودونه وپیژنی نو ځنی ضروری یی په لاندی توگه ښوول کیږی:

## ځنی مهم (افغانی) کودونه

ډیره موده پخوا له دی چی افغانان د اسلا م په مقدس دین مشرف شی، افغانی ټولنه د خپلو هغو نا لیکلو دودونو، نرخونو او حدونو (کودونو) په ذریعه اداره کیدله چی له پیړیو پیړیو ورته په میراث را پاتی ول او پښـتـونـواله یا افغانیت یی باله. د محترم احمد شاه درانی په قول « دا کودونه د بابلیانو د هامورابیله قوانینو څخه ډیر زاړه او پخوانی دی. دا پښتني (افغانی) کودونه له یوه نسل نه بل او د بل نه بل ته په میراث را پاتی شویدی او په ټول قوت سره تر دا ننه پوری را رسیدلی دی، په دی کودونو کی له خپل منځی جنگ جگړو نه را نیولی بیا تر د نورو استعماری قوتونو سره جگړی، طبیعی حواد ث ، ناخاپی یرغلونه او تاړاکونه او نور اونور ټول د یوه تاریخ په توگه د خلکو په ذهنونو کی ثبت او درج شویدی.

دی نرخونو او کودونو د زرگونو کلونو په اوږدو کی په (افغانی) ټولنه کی انتظام را وستی او په اسانی سره کولی شو چی د افغانیت نوم ورته واخلو، ځکه دی کودونو لا ډیر پخوا په افغانستان کی د ټولو میشتو قومونو په کلچرونو او دودونو کی خپلی ریښی غزولی او په هراړخیزه توگه د خلکو د قبول وړ گرځیدلید ی

کله چی د افغانانو سیمی ته اسلام راغی او د اسلام مبلیغینو دی خلکو ته د اسلامی شریعت اصول تشریح کړل نو دوی داسی و پوهیدل چی داسلام اصول دهغو اصولو سره چی دوی د سیوری لاندی ژوند کوی اساسی توپیر نه لری، فرق یواځی دادی چی په اسلامی قانون یعنی شریعت کی منظمه بڼه لری او حدونه پکی تعیین شویدی او زمونږموجوده نرخونه نا منظم او حدودات یی پوره معین شوی نه دی، د همدی مفهوم په درک سره افغانانو له بل هر قوم نه ژر او په اسانۍ سره د اسلام مقدس دین و مانه او د هغه اصولو ته یی غاړه کیښودله.

افغانی نر خونه په مجموع کی یو هسی سیستم دی چی د هر ډول شخړو او لانجو د ختمیدو د پاره لاری چاری پکی میندلی کیږی، د دی تر څنگ په دی کودونو کی داسی جوړښتونه هم شته چی د جگړی د رامنځ ته کیدو د پاره نه یواځی زمینه برابروی بلکی د جگړی دوام ته لمنه هم وهی او ځنی بیا داسی دی چی هم شخړه جوړوی او هم د شخړی ختم پری راتللی شی محترم«درانی» هغه کودونه چی د شخړو او جگړو د حل سره مرسته کوی د (۱) په نمبر سره ، او هغه چی د جگړی د رامنځ ته کیدو وسیله تری جوړیږی د (۲) په نمبر سره او هغه چی کول یا نه کول یی دواړه حالته را منځ ته کوی د (۱،۲) په بڼه په لاندی توگه ښولی دی:

- میلمه پالنه (افغانان د میلمنو قدر کول د خدای(ج) عبادت بولی او باور لری چی د میلمه سره کورته برکت راځی. نو ځکه وایی چی: چی میلمه یی ورک شو مړ یی وبوله) [۱]
- جرگه (په ستونزو او د ستونزی د را پیداکیدو په لاملونو د هوښیارو او مدبرو اشخاصو را ټولیدل د مفاهمی د پاره او په ملی سطحه د قومونو د مشرانو را ټو لیدنه د یوی معضلی د حل د پاره) [ ۱ ]
- ننوا تي (د ناوړه عمل د سرته رسولو نه وروسته د پری او ملامتیا منل او مقابل لوری نه د بخښنی غوښتل ، او د باوری روغی او د بیا نه تکرار د پاره د تضمین ورکول) [ ۱،۲ ]

- غیرت (د حیا، عزت، حرمت، پت او ناموس ساتنه) [ ۲ ]
- بدل (غچ یا انتقام اخستنه خصوصاً په هغه صورت کی چی جرگه یا نه وی شوی او یا نه وی منلی شوی ) [ ۱،۲ ]
- رښتیا (د هری واقعی د حقیقت څرگندتیا یعنی صــداقت او ایمانداری) [۲،۱]
- پا کی او عفت یا پاک لمني (د هر ډول بد اخلاقۍ څخه لیری والي) [ ۲ ]
- روغه (جوړښت او سازش یا د جرگی مثبته نتیجه، هغه حالت دی چی قومی مشران او مخور یی دسولی د تامین او پایښت د پاره را منځ ته کوی او شخړه د تل د پاره له منځه وړی) [ ۱ ]
- تیـره (هغه اعتبار دی چی مشران او مخور یی د روغی جوړی د پایښت د پاره د مالی تضمین په توگه وضع کوی) [ ۱ ]
- اوربند یا ډزبـنـد (هغه حالت دی چی د جرگی او خبرو اترو د جریان په وخت کی د هر ډول تعرض مخنیوی کوی او د جرگه کونکو له خوا منځ ته راځی، که د معاملی هره خوا د جرگی د جریان په وخت کی ډز بند مات کړی جرگه وربا‌ندی د پړی غږ کوی او نآغه تری اخلی.) [ ۱ ]
- ناغه ( هغه جریمه ده چی د جرگی د فیصلو، یا د تیری د اصولو او یا د ډز بند یا اور بند ماتونکی یی باید پری کړی) [۱]

۱۵

- پـړه او مـلا متـیـا ( هغه حالت دی چی د افغاني کودونو ماتونکی ورسره مخامخ کیږی، د پړی یا ملامتیا د غږ صلاحیت یوائی د منځگړو یا جرگه مارانو سره وی ) [ ۱ ]
- تــوره ( میرانه، زړورتیا او د بری لاس ته راوړنه ، یا په بل عبارت دستونزی حل د افغاني کودونو له لاری اویا د جگړی په میدان کی قاطع بری) [ ۲ ]
- ننـگ او نا موس ( د کورنی پت او عزت ساتنه ) [ ۲ ]
- د ا ړه ( نا څا پـی حـمـلـه ) [ ۲ ]
- غــزا ( د دینی مقد ساتو د ساتنی او ملی حیریت د پاره جگړه ) [ ۲ ]
- چـیـغـه ( د دښمن له خوا د کوم خطر د احساس په وخت کی ملی غږ او ناره ، چی د نغارو په کړنگولو اوملی جنډو په پورته کولو سره د خلکو پرگنی د گرمی جگړی میدان ته رابولی) [ ۲ ]
- لـښــکر ( د ملی ارزښتونو د ساتنی د پاره ستر ملی او قامی حرکت چی د ولسونو له خوا جوړیږی) ( ۱،۲]
- مـلا تـړ ( د ملی پا څون په وخت کی یو بل ته لاس ورکول اوملی لښکر ته هرډول مرسته رسونه ) [ ۱،۲ ]
- گـونـدي ( د قومی زیاتو گټو او ویاړونو دلاس ته راوړلو د پاره په نا لیکلی توگه د قومونو د وگړو ویش عموماً په دوه ډلو. د گوندئ سیستم په پښتنی ټولنه کی د پښتنو قومونه د ځنځیر د کړیو په څیر سره مښلوی ) [ ۲ ]
- تــور (کورنی حیثیت او ناموس ته په بده سترگه د کتلو اتهام، چی اوس یی سیاست ته لاره میندلی ده) [ ۲ ]
- بـر مـتـه ( دوه ډوله مفاهیم ارایه کوی: یو داچی د یوی معاملی تر ختمه پوری د چا د مال یا د کوم شخص قیدول او په قبضه کی ساتل او بل داچی په خپله خوښه د تضمین په توگه مقابل لوری ته د معاملی تر ختمه پوری د یوه شی ور کول ) [ ۱،۲ ]

- بدرگه (له یوی خطر لرونکی سیمی څخه د یو چا د مصؤنی تیریدنی دپاره ملا تړاو ملګرتیا) [۱]
- آشـر (په خپله خوښه بی له اجوری څخه د نورو سره مرسته او د کار کول) [۱]
- مـیـراتـه (د مال او جایداد د غصب د پاره د یوی کورنی د ټولو نارینه و وژنه) [ ۲ ]
- همسایه (د یوه قوم په چم ګاونډ کی د نورو خلکو اوسیدل او د هغوی د مصؤنیت ساتنه) [ ۲ ]
- اعتبار (ډاډ او باور) [ ۱،۲ ]
- امانت (د بل چا سر او مال په امن کی ساتل او د غوښتنی په وخت کی بیرته خاوند ته په سالمه توګه د هغی سپارل.) [ ۱،۲ ]
- لوښـئ (د یوه قوم او بل قوم د افرادو تر منځ د پیژند ګلوی اعتبار) [ ۱ ]

دا د افغانی کودونو یو څونموني وی چی وړاندی شوی، دی ته ورته نور ډیر کودونه وجود لری چی په افغانی ټولنه کی د ژوندانه د جوړښت او یا هم د تباهی او بربادئ لامل ګرځیدلی شی.

د افغانانو د زړونو او د هغوی د فکرونو د را خپلولو د پاره دی کودونو ته ارزښت ورکول او په افغانی ټولنه کی د هر مثبت کار د کولو اوسرته رسولو د پاره په دی کودونو باندی پوهیدل ډیرضروری او اړین دی. دا خبره بیخی یقینی ده چی اوس د دهشتګرو او تروریستانو افغان ملګری د همدی کودونوم د نه مراعات کیدو له امله د نړیوال تروریزم غیږ ته ورلویدلی او یواځی د همدی کودونو تطبیق د دی باعث کیدای شی چی هغوی بیرته خپل عادی ژوند ته را وګرځوی او په افغانستان کی د دایمی سولی او ثبات د راتلو او پاینت سره مرسته وکړی. زه له همدی کبله په دی ټینګار کوم چی که د افغانستان موجود ملی یووالی دولت او نړیواله ټولنه په دی هیواد کی د سولی او دایمی ثبات غوښتونکی وی یو کرت دی د دی کودونو سم په کار اچول و ازمایی او د سولی د تامین د پاره دی پورته ترتیب شوی پروپوزل د یوڅه غور نه وروسته د تطبیق ساحی ته واچوی او و دی ګوری چی څه ډول نتیجه تری په لاس راځی.

په افغانستان او ټوله نړئ کی د سولی د تامین په امید.

**پای**

دیپلوم انجنیر سلطانجان کلیوال

۱۹دسمبر/۲۰۱۴

تورنتو/کانادا